صیام الدین « پسرلی »


د نشر نیټه : ۲۷سپتمبر ۲۰۱۲ میلادی


# مثبت بدلون ټولنې د یوې غونډه په ترڅ کې د اسلام پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم شان ته د سپکاوي په موخه جوړ شوی فلم وغنده.

مثبت بدلون ټولنې د خپلو ناستو د لړ په اتمې ناسته کې، چې روان کال د سنبلې پر ۱۴ مه نیټه د ننګرهار ټولنیز مرکز ـ میدیوتیک په انګړ کې تر سره شوه، د یو امریکایي له خوا جوړ شوی هغه فلم وغنده چې په کې د اسلام پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم شان ته سپکاوی شوی و.
په دې ناسته کې نږدې پنځوس کسانو ګډون درلود، د پروګرام پیل د قاري سیف الرحمن نیازي له خوا د قران عظیم الشان د څو مبارکو ایتونو پر تلاوت وشو، وپسې د ننګرهار پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد هجرت الله اختیار په خپله وینا کې د هغه فلم جوړېدل وغندل چې په کې یې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم شان د سپکاوي کولو هڅه شوې وه، اختیار وویل: ((موږ د مثبت بدلون ټولنې ټول غړي زموږ د پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په شان کې د سپکاوي په موخه د جوړه شوي فلم غندنه کوو، کفار که هر څومره هڅه وکړي چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم شان ته سپکاوي وکړي، دوی به په خپلو فاسدو مقاصدو کې کامیاب نه شي، لوېدیځوالو تنګنظرو په دې کار سره خپل اصلیت وښود، موږ باید د داسې مسایلو غندنه په سولییزه بڼه وکړو.))
اختیار زیاته کړه چې موږ د دغسې اعمالو په غبرګون کې کولای شو چې د سیرت ځانګړې ناستې د خپلو ځوانانو د لا ښه پوهاوي لپاره برابرې کړو، همدارنګه کولای شو چې د سیرت د کتابونو نسخې پر خپلو لوستو ځوانانو ووېشو چې هغوی د حضرت محد صلی الله علیه وسلم ژوند ولولي او ترې خبر شي.
اختیار د خپلو خبرو په پای کې د (مثبت بدلون) اخبار د چاپ لپاره پر ترسره شویو کارونو رڼا واچوله او تمه یې وښوده چې ډېر ژر به چاپ شي.
استاد عبدالبصیر سباوون د اساسنامې او د ټولنې د راجستر کېدو د جریاناتو په هکله ګډونوالو ته معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه چې په لنډو ورځو کې به د ټولنې د ثبت او راجستر موضوع هم حل شي.
د غونډې په اوږدو کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي محصل عصمت الله، د کلید راډیو خبریال توریالي همت، د یوې خصوصي لېسې استاد غلام رباني،د بهسودو ولسوالۍ د ځوانانو ټولنې مشر نجیب الله حلیمي دمثبت بدلون ټولنې د فعالیتونو او راتلونکو پلانونو په اړه خپل نظریات څرګند کړل او له ټولنې څخه یې خپل ملاتړ اعلان کړ.
په پای کې پرېکړه وشوه چې د مثبت بدلون ټولنې غونډې به په هرو لسو ورځو کې یو ځل ترسره کیږي، چې راتلونکې ناسته به د میزان پر ۱۰ نیټهٔ د دوشنبې په ورځ د ماسپښین ۳ بجې وي.

مثبت بدلون ټولنه
صیام الدین « پسرلی »




هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی
استفاده از مطالب سایت « ارگان نشراتی صلح و تفاهم سعید افغانی » با ذکر مأخذ آن آزاد است